
# په وړکتون کې شاملېدل

## د کورنیو لپاره د ښوونځي د چمتووالي لارښود



Fairfax County OFC Office for Children

محلي او ټولنيز خدمتونه • د ماشومانو اداره
12011 Government Center Parkway, Suite 920
Fairfax, Virginia 22035-1102

ټليفون: 703-324-8000

**www.fairfaxcounty.gov/OFC**

د فيرفکس ناحيې، VA چاپ.
د چاپ نېټه 5/2022

Fairfax County
Neighborhood and Community Services

د فيرفکس ناحيه خپلو ټولو وګړو او فعاليتونو ته د ورته لاسرسي چمتو کولو ته ژمنه ده. په هغه ځای کې چې د TTY شمېره نه وي مشخص شوي، له Virginia Relay/711 څخه کټه واخلئ. د غوښتنې په صورت کې مناسب ترتيبات نيول کېږي؛ 703-324-8000 شمېرې ته زنګ ووهئ.

# په ورکتون کې شاملېدل

## د کورنیو لپاره د ښوونځي د چمتووالي لارښود





# په وړکتون کې شاملېدل!

که چېرې ستاسو ماشوم د سپټمبر تر 30 پورې 5 کلن وي، نو هغه به ژر وړکتون پیل کړي.

په "وړکتون کې د شاملېدلو" لپاره ستاسو د ماشوم له چمتووالي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه داچې تاسو باید وړکتون ته ستاسو د ماشوم له داخلېدلو څخه مخکې د کال په جریان کې څه وکړئ، په اړه یې دا لارښود تاسو ته ځینې مفکورې درکوي.

په دې لارښود کې هغه ګامونه هم شامل دي چې په سمه توګه په وړکتون کې ستاسو د ماشوم د راجستر کولو لپاره یې تاسو سرېکال پورته کولی شئ.

بلاخره، دا لارښود د ښوونځي او ټولنیزو سرچینو په اړه معلومات لري چې ستاسو د ماشوم وړکتون ته د چمتوالي په مهارتونو کې مرسته کوي.

# لړلیک


تاسو د انځور یو مهمه برخه یاست.. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. 4
ښه اړیکه په کور کې پیل کېږي . .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. 4
ورځني کارونه وړکتون ته ستاسو د ماشوم په چمتو کولو کې مرسته کوي.. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. 5
له نورو خلکو سره سمیمي اوسېدل . .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. 6

سالم بدن او ذهن جوړول. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. 7

د ښوونځي د چمتوالي د تجربو موسمي جدول . .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. . 8-11

وړکتون ته د بدلون بهیر . .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. . 12

د ټولنیزو سرچینو سره نښلېدل .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. . 13

د کورنیو لپاره مرستندویه سرچینې .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. . 14
چاپ . .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. . 14
ویب پاڼې .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. . 14
ویډیوګانې . .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. 15
ایپونه .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. .. 15

# تاسو د انځور یو مهمه برخه یاست

## ښه اړیکه په کور کې پیل کېږي

په وړکتون کې به ستاسو ماشوم ټوله ورځ له نورو سره خبرې کوي. ستاسو ماشوم به اړ وي چې:

- د خپلو اړتیاوو او غوښتنو په اړه خبرې وکړي.
- بیلابیل خلک، ځایونه، توکي او مراسم بیان کړي.
- هغه څه شریک کړي چې د ورځې په جریان کې یا یو ورځ مخکې واقع شوي وي.
- په همکارۍ ترسره کېدونکو لوبو کې برخه واخلي.

کله چې تاسو او ستاسو ماشوم په خپله کورنۍ ژبه خبرې کوئ، تاسو د افهام او تفهیم مهارتونه رامنځته کوئ.

- له خپل ماشوم سره د هغه څه په اړه چې تاسو یې ترسره کوئ او هغه څه چې هغه یې ترسره کوي، خبرې وکړئ.
- د هغه څه په اړه پوښتنې وکړئ چې د لوبې یا له یو ملګري سره د لیدلو پرمهال پېښ شو.
- د هغه څه په اړه پوښتنه وکړئ چې لومړی، له هغې وروسته او په اخره کې پېښ شو.
- له خپل ماشوم څخه غوښتنه وکړئ هغه معلومات راونغاړي چې توکي او کړنې تشریح کوي.
- له خپل ماشوم څخه غوښتنه وکړئ چې ساده لارښوونې تعقیب کړي.
- له خپل ماشوم څخه غوښتنه وکړئ چې د راتلونکې پېښې وړاندوینه وکړي.



## معمول کارونه وړکتون ته ستاسو
## د ماشوم په چمتو کولو کې مرسته کوي

په کور کې د معمول کارونو درلودل په وړکتون کې د معمول کارونو په پام کې نیولو لپاره ستاسو د ماشوم په چمتوالي کې مرسته کوي.

- د سهار یو منظم مهالویش ترتیب کړئ (له خوبه پاڅېدل، کالي، خوراک، وړکتون ته تګ یا د ورځې لپاره پلان جوړول).
- ډاډ ترلاسه کړئ چې د سهار ناشته (سهارنۍ) د سهار د معمول کارونو برخه وي.
- د خوړو او سپکو خوړو وختونه تقریباً په یو شان وخت کې وټاکئ.
- د فزیکي فعالیتونو مهالویش ترتیب کړئ.
- د هغو وختونو مهالویش ترتیب کړئ چې د آلاتو استعمال به پکې اجازه ولري.
- د یو فعالیت نه بل فعالیت ته د لېږد پلان جوړ کړئ
- د راتلونکې ورځې لپاره توکي منظم کړئ.
- هره ورځ د لوست وخت لپاره پلان جوړ کړئ
- په معمول ډول د خوب منظم وخت وټاکئ.



## له نورو خلکو سره سمیمي اوسېدل

له نورو خلکو سره سمیمي اوسېدل داسې یو مهارت دی چې ماشومانو ته د وړکتون چمتوالی اسانه کوي.

هغه ماشومان چې له نورو خلکو سره سمیمي وي، پوهېږي چې څنګه:

- خپل وخت له نورو ماشومانو او لویانو سره تېر کړي.
- په همکارۍ سره لوبه وکړي او خپل نوبت واخلي.
- له نورو سره د لوبو شیان شریک کړي.
- په کلمو سره ستونزې حل کړي.
- د خلکو او ملکیتونو احترام وکړي.
- د مرستې غوښتنه وکړي.
- ملګري پیدا کړي.
- د خپلو احساساتو په اړه خبرې وکړي.
- د مهرباني وکړئ، مننه، وبښه، ببښنه غواړم، زه مرستې ته اړتیا لرم، زه یې هڅه کولی شم په څېر کلمې استعمال کړي.
- ساده لارښوونې تعقیب کړي.
- ستاسو او او د کورنۍ له نورو غړو څخه جلا شي.



# سالم بدن او ذهن جوړول



## خوب

د خوب منظم معمول وخت وټاکئ ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ستاسو ماشوم په پوره اندازه خوب کوي. اکثره کوچني ماشوم له 10 څخه تر 13 ساعتونو خوب ته اړتيا لري. په وړکتون کې ستاسو ماشوم د لنډ خوب لپاره وخت نلري.

## تمرين

منظم فزيکي فعاليت د خپلې کورنۍ د معمولي کارونو يوه برخه وګرځوئ. داسې لوبې وکړئ چې د منډې وهلو، ختلو، ويشتلو، ټوپ وهلو، په پښه د توب وهلو، په پښه د درېدلو، چورلېدلو په څېر فعاليتونه پکې شامل وي.

## ښه تغذيه

له خپل ماشوم څخه وغواړئ چې له تاسو سره د صحي سپکو خوړو او غذا په چمتو کولو کې مرسته وکړي. خپل ماشوم وهڅوئ چې هره اونۍ د ازمايلو لپاره نوي خواړه وټاکي. په وړکتون کې ستاسو ماشوم کولی شي چې له کور څخه له ځان سره د غرمې ډوډۍ راوړي يا په کنټين (رسټورانټ) کې د خپلې خوښې خواړه وټاکي.

## د آلاتو د استعمال وخت

د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې هغوی يې په پرده ګوري (کمپيوټرونه، آيپيډ، تلويزيون). د آلاتو د استعمال وخت لپاره يو حد وټاکئ، په ځانګړي ډول د خوب له وخت څخه مخکې.

## عاطفي وده او د ځان کنټرول

د اصولو او پايلو په اړه بحث وکړئ او په هغې باندې ثابت و اوسئ. له خپل ماشوم سره ددې په پوهېدو کې مرسته وکړئ چې د غلطيو کول د زده کړې برخه ده. هغوی وهڅوئ چې که چېرې يو کار ستونزمن هم وي، نو بيا هم خپلې هڅې ته دوام وکړي. خپل ماشوم وهڅوئ چې يوې ستونزې ته څو حلونه ومومي. له هغوی سره په پلان جوړولو، متمرکز اوسېدلو او ذهن ته په سپارلو کې مرسته وکړئ.

# د ښوونځي د چمتوالي
# د تجربو موسمي جدول

که چېرې د خپل ماشوم د ودې په اندېښنې لرئ، نو د فيرفکس ناحيې په کوچنيوالي کې د ماشومانو د پېژندنې او خدمتونو سره په 571-423-4121 شمېره اړيکه ونيسئ. هغوی به تاسو ته د مداخلې، ورکشاپونو، ازموينو او ارزونو په اړه معلومات درکړي. د "ماشوم پيدا کولو" دا خدمتونه د هغو ماشومانو لپاره وړاندې کېږي چې عمرونه يې له 20 مياشتو څخه تر 5 کلونو پورې وي.

**د منې موسم لپاره ځينې غوره کتابونه:**

د Robert Maass لخوا ليکل شوی کتاب
"A is for Autumn"

د Lois Ehlert لخوا ليکل شوی کتاب "Leaf Man"

د Linda Glaser لخوا ليکل شوی کتاب "!It's Fall"

د Dianne Ochiltree لخوا ليکل شوی کتاب
"Sixteen Runaway Pumpkins"

د Jan Carr لخوا ليکل شوی کتاب
"Dappled Apples"

د Wendi Silvano لخوا ليکل شوی کتاب
"Turkey Trouble"

## په ټول کال کې

- سندرې زمزمه کړئ او کيسې ووایاست او بيا ځلې يې نقل کړئ.
- هغه څه چې پيښيږي، په اړه يې خبرې وکړئ.
- ستاسو د ماشوم د نوم توري وپلټئ.
- له خپل ماشوم سره د هغو کلمو په پيدا کولو کې مرسته وکړئ چې يو ډول قافيه ولري يا په يو ډول غږ سره پيلېږي.
- په ذهني پوښتنو باندې کار وکړئ.
- د تبنتې ساده لوبه وکړئ.
- د انځورونو د رسمولو لپاره له مارکر، رنګو او پنسلونو څخه ګټه واخلئ.
- له قيچي څخه په ګټې اخيستنې سره تمرين وکړئ.
- د ترتيبولو او شمېرلو لوبې وکړئ.
- وشمېرئ او له شمېرو څخه ګټه واخلئ.
- د توکو د تشريح کولو پرمهال خپل ماشوم وهڅوئ چې له رنګ څخه ګټه واخلي، کلمې رامنځته او اندازه يې کړي.
- په فزيکي ډول فعالې لوبې ترسره کړئ.
- هغه لوبې ترسره کړئ په کومو کې چې ستاسو ماشوم بايد په چوپتيا سره ودرېږي يا کښېني.
- په منظم ډول کتابتون ته لاړشئ. له خپل ماشوم سره د کتابونو په ټاکلو کې مرسته وکړئ.
- خپل ماشوم پوښتنو کولو ته وهڅوئ.

## د منې موسم (سپټمبر -نومبر)

- د منې موسم د نښو نښانو د کتلو لپاره له خپلې کورنۍ سره يوځای قدم ووهئ.
- وګورئ چې خړلمی داني خښوي، هيلۍ په سرونو الوزي او پاڼې خپل رنګ بدلوي. په هوا کې د بدلونونو په اړه خبرې وکړئ.
- خپل ماشوم ته د کوټ اغوستل او ويستل ور زده کړئ او د تڼۍ د تړلو او/يا ځنځير تړلو تمرين وکړئ.



## ژمی (ډسمبر - فبروري)

**په وړکتون کې ثبت نام**

- د فیرفکس ناحیې د دولتي ښوونځیو د سرحد له معلوماتي سیستم څخه په http://boundary.fcps.edu/boundary کې کتِه واخلئ ترڅو معلومات ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشوم به په کوم وړکتون کې شاملیږي.
- له هغه لومړني ښوونځي څخه لیدنه وکړئ.
- په وړکتون کې د خپل ماشوم د شاملونو لپاره د اړینو معلوماتو په راټولو باندې پیل وکړئ. په دې کې د استوګنځي سند، د زیږون سند او د روغتیا او معافیت ترلاسه کوني سوابق شامل دي. د نوم ثبتولو کړنلارې او فورمونو په www.fcps.edu پته شتون لري یا تاسو د فیرفکس ناحیې په هر لومړني ښوونځي کې د نوم ثبتولو کڅوړه ترلاسه کولی شئ.
- په وړکتون کې د نوم ثبتولو او د وړکتون د پیژندګلوی مراسمو د نېټو په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره له خپل سیمه ایز لومړني ښوونځي سره اړیکه ونیسئ.
- په خپله ټولنه کې د وړکتون د چمتوالي په ورکشاپ کې ګډون کول په پام کې ونیسئ.
- ددې لپاره چې معلومه کړئ چې د کورنیو لپاره وړکتون ته د چمتوالي کوم مراسم په پام کې نیول شوي دي یا نه، د کوچنیوالي زده کړې له خپلو پروګرامونو سره اړیکه ونیسئ.
- که چیرې تاسو له ښوونځي څخه مخکې او ورسته پاملرنې ته اړتیا لرئ، نو د فیرفکس ناحیې د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو د پاملرنې (SACC :FairfaxCounty.gov وپلټئ) اداري سره اړیکه ونیسئ یا د ماشومانو اداري "Child Care Search" له وسیلې څخه کتِه واخلئ.

**د منې موسم لپاره ځینې غوره کتابونه:**

د Eric Pinder لخوا لیکل شوی کتاب "How to Build a Snow Bear"

د Kate Messner لخوا لیکل شوی کتاب "Over and Under the Snow"

د Addie K. Boswell لخوا لیکل شوی کتاب "The Snow Dancer"

د Lois Ehlert لخوا لیکل شوی کتاب "Snowballs"

د Ezra Jack Keats لخوا لیکل شوی کتاب "The Snowy Day"

**له خپل ماشوم سره فعالیتونه**

- تاوده کالي واغوندئ او له خپلې کورنۍ سره یو څه وخت د باندې تېر کړئ.
- د هغو بدلونونو په اړه خبرې وکړئ چې ستاسو ماشوم یې په چاپیریال کې ویني. هغه ونې وګورئ چې پاڼې یې تویې شوي دي او هغه چې پاڼې یې لا تر اوسه شنې دي. توتان او د نښترو ورې پیدا کړئ.
- له یو بل سره د کتاب د شریکولو لپاره هره ورځ وخت پیدا کړئ. د ژمي د موسم په اړه د کیسو کتابونه له یو بل سره شریک کړئ. له خپل ماشوم سره د خپلې خوښې د هغو کیسو په اړه خبرې وکړئ چې تاسو لوستلي دي.



## پسرلی (مارچ - می)

**په وړکتون کې ثبت نام**

- د ماشومانو له خپل ډاکټر یا روغتیایي کلینیک سره د لیدنې وخت ترتیب کړئ.
- د نوم ثبتوني ټول اسناد بشپړ او خپل سیمه ایز لومړني ښوونځي ته يې وسپارئ.
- د وړکتون د پیژندګلوۍ په لومړيو پروګرامونو کې برخه واخلئ چې ستاسو په سیمه ایز لومړني ښوونځي کې تنظیم شوي وي.
- ددې لپاره چې ستاسو د ماشوم د کوچنیوالي پروګرام اجازه ترلاسه کړي چې ستاسو د ماشوم له لومړني ښوونځي سره معلومات شریک کړي، د معلوماتو د تبادلې يوه فورمه لاسلیک کړئ.
- د هغه ښوونځي د فیسبوک پاڼه خوښه یا تعقیب کړئ چې ستاسو ماشوم پکې شاملیږي. نوموړی ښوونځی په ټویټر تعقیب کړئ.
- د فیرفکس ناحیې د دولتي ښوونځیو د هغو خبرونو ترلاسه کولو لپاره نوم ثبت کړئ چې تاسو يې ټاکئ ترڅو له ښوونځي څخه په منظم ډول تازه معلومات ترلاسه کړئ. د ګډون کولو لپاره، د FCPS د ګډونوال د لومړیتوبونو پاڼي څخه لیدنه وکړئ او بریښنالیک پته ورکړئ. TOPIC وټاکئ. ELEMENTARY SCHOOLS وټاکئ. یو ښوونځی وټاکئ.

*د مني موسم لپاره ځيني غوره کتابونه:*

د Linda Glaser لخوا لیکل شوی کتاب
“!It’s Spring”

د Denise Fleming لخوا لیکل شوی کتاب
“UnderGROUND”

د Susan Grigsby لخوا لیکل شوی کتاب
In the Garden with”
“Dr. Carver

د Tana Hoban لخوا لیکل شوی کتاب
So Many Circles, So Many”
“Squares

د Pat Hutchins لخوا لیکل شوی کتاب
“Rosie’s Walk”

د Lois Ehlert لخوا لیکل شوی کتاب
“Planting a Rainbow”

**له خپل ماشوم سره نور فعالیتونه**

- د وړکتون په اړه له خپل ماشوم سره خبرې پیل کړئ.
- د کتابتون له مسئول څخه وغواړئ چې د وړکتون د پیلولو په اړه ښه کتابونه دروښايي.
- معلومه کړئ چې که چېرې تاسو کولی شئ له خپل ماشوم سره له ښوونځي څخه لیدنه وکړئ او د وړکتون له خوني څخه لیدنه وکړئ.
- د ښوونځي د لوبو له میدان څخه لیدنه وکړئ.
- معلومه کړئ چې که چېرې یو څوک ستاسو ماشوم ته د بس له داخل څخه دلیدلو اجازه ورکړي.
- په خپله ټولنه کې اطفایي یا د پولیسو مرکز، پوسته خاني یا د بزګرانو د بازار په څېر ځایونو څخه لیدنه وکړئ.
- له خپل ماشوم سره يوځای د سودا لیست چمتو کړئ. له هغوی څخه وغواړئ چې هغه توکي په مغازه کې پیدا کړي.



## اوړی (جون - اګسټ)

**وړکتون ته د بدلون بهیر**

- نوموړي ښوونځي ته د خپل ماشوم د ورپېژندلو یو لیک ولیکئ
- په کثرت سره د ښوونځي له ویب سایټ څخه لیدنه کوئ او د "بیرته ښوونځي د ستنېدو" مراسمو په اړه معلومات ګورئ.
- په ټول اوړي کې د خپل ماشوم له لومړني ښوونځي څخه لیدنه کوئ.
- له هغو ماشومانو سره د لوبو د وخت په پلانولو باندې کار وکړئ چې همدې ښوونځي ته ځي.
- په خپل کور کې هغه ځای وټاکئ چېرې چې تاسو د خپل ماشوم د وړکتون توکي ساتئ، د مثال په ډول د هغه بکسه او د کتابتون کتابونه.

**له خپل ماشوم سره نور فعالیتونه**

- ستاسو ماشوم باید په خپل بشپړ نوم باندې پوه شي او داچې هغه په چاپ کې څه ډول معلومېږي. که چېرې هغه په تخلص یا بل نوم باندې یادېږي، نو هغه باید د خپل زېږون په اصلي نوم باندې هم پوه شي.
- خپل ماشوم وهڅوئ چې په یواځې ډول خوراک وکړي (د میوو اوبو خلاص بکسونه او داسې نور)
- هغه کالي وپېرئ چې په اسانۍ سره په تن کېږي او بیرته په اسانی سره ویستل کېږي.
- د خوندیتوب اصولو ته کتنه وکړئ لکه په پیاده روئ قدم وهل او پرته له یو لوی شخص څخه له سړک څخه مه تېرئ.

***د مني موسم لپاره ځینې غوره کتابونه:***

*د Denise Fleming لخوا لیکل شوی کتاب "Beetle Bop"*

*د Audrey Penn لخوا لیکل شوی کتاب "The Kissing Hand"*

*د Shelly Becker لخوا لیکل شوی کتاب "One, Two Grandma Loves You"*

*د Rosemary Wells لخوا لیکل شوی کتاب "Yoko Writes her Name"*

*د Steve Jenkins لخوا لیکل شوی کتاب "Actual Size"*

*د Jane Yolen لخوا لیکل شوی کتاب "How Do Dinosaurs Go to School?"*

*د Donald Crews لخوا لیکل شوی کتاب "School Bus"*

*د Alison McGhee لخوا لیکل شوی کتاب "Countdown to Kindergarten"*



# وړکتون ته د بدلون بهیر

د وړکتون هر ټولګی توپیر لري، مګر د وړکتون په ټولو ټولګیو کې ټوله ورځ ماشومان کولی شي چې په بشپړو ډلو، کوچنیو ډلو او د زده کړې په فردي تجربو کې برخه واخلي. په ښي خوا کې د وړکتون یو نمونه يي مهالویش شتون لري.

ماشومان په اسانی سره کولی شي چې د وړکتون لپاره چمتو شي که چېرې هغوی:

- د ستونزو حلوونکي وي.
- په نویو چاپیریالونو کې راحته وي.
- د پرېکړو کوونکي وي.
- کنجکاو وي.
- د خطر په غاړه اخیستونکي وي.
- د افهام او تفهیم ښه مهارتونه ولري.

| وخت (په دقیقو کې) | د ورځې برخه |
|---|---|
| 15-10 | رسېدل/د سهار چاې/ارتباط |
| 20 | د سهار لیدنه |
| 30-25 | د لوست ورکشاپ |
| 50-45 | د کلماتو مطالعه او د لیک لوست زده کړې ځایونه |
| 45-40 | د لیکنې ورکشاپ |
| 15 | وقفه |
| 30 | د غرمې ډوډۍ |
| 10 | د انعکاس/پروسس وخت |
| 55 | د ریاضي ورکشاپ |
| 60 | ځانګړي |
| 15 | وقفه |
| 40 | ساینس/ټولنیز علوم/صحت |
| 25 | د ټاکنې وخت |
| 10 | د حلقو بندول/له منځته ورل |



# د ټولنیزو سرچینو سره نښلېدل

### د فیرفکس ناحیې عامه کتابتونونه

**www.fairfaxcounty.gov/library**

د کتابتون هره څانګه د ماشومانو د کتابونو یو برخه لري چې ستاسو د ماشوم د ذهنیت جوړولو او په کوچنیوالي کې د سواد مهارتونو د ترلاسه کولو په موخه رامنځته شوي ده. په یو وخت کې د دریو اونیو لپاره تر 50 کتابونو پورې په قرض اخیستلی شئ. کتابونه په بېلابېلو ژبو شتون لري. د وړکتون او د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو لپاره د ټول کال په اوږدو کې ځانګړي فعالیتونه او د کیسي ویلو وختونه وړاندې کېږي. د "Ready to Read" خبرپاڼه چې د کتابتون په ویب سایټ باندې شتون لري د هغو کتابونو ښې مفکورې وړاندې کوي چې تاسو یې خپل ماشوم ته لوستلی شئ.

### د فیرفکس ناحیې د پارک اداره

**www.fairfaxcounty.gov/parks**

د وړکتون زده کوونکو لپاره د لیوالتیا وړ ټولګې په "Parktakes" مجله کې شتون لري چې په آنلاین بڼه یا په خپل عامه کتابتون کې یې موندلی شئ.

د فیرفکس ناحیه د بېلابېلو اندازو ډېر شمېر پارکونه لري. دوه پارکونه چې کېدی شي د کوچنیو ماشومانو لرونکو کورنیو د ځانګړې لیوالتیا وړ وي، عبارت دي له:

**Clemyjontri** دوه هکتاره د لوبو میدان دی چې په څلورو بهرنیو خونو ویشل شوی دی. د معلولو ماشومانو په شمول ټول ماشوم کولی چې دې پارک ته لاړ شي. دا پارک د ساعت تېرې او میلې ساختمان لري.

6317 Georgetown Pike, McLean, VA 22101 703-388-2807.

**Frying Pan Farm Park** د 1920 کال د فارم نقل، د ساعت تېرې ځای، سپرلۍ، د ناحیې مغازه او د لیدونکو مرکز لري. ماشومان کولی شي چې د فارم یو شمېر حیوانات او د فارم زاړه سامان آلات لیدلی شي. په دې پارک کې د میلې میزونه او د لوبو یو میدان شتون لري.

2709 West Ox Road, Herndon, VA 20171 703-437-9101.

### د فیرفکس ناحیې روغتیایي کلینیک

**www.fairfaxcounty.gov/health/clinics**

**د معافیت ترلاسه کول**

د هغو ماشومانو د معافیت ترلاسه کولو اسناد اړین دي چې وړکتون ته داخلېږي. د فیرفکس ناحیې روغتیایي څانګه په کلینیکونو کې په وړیا ډول د ښوونځي لپاره اړین د معافیت ترلاسه کولو درمل وړاندې کوي.

د موقعیتونو د لړلیک او د معافیت ترلاسه کولو د هغو درملو لپاره زمونږ له ویب سایټ څخه لیدنه وکړئ چې د ښوونځي لپاره اړین دي.

**د غاښونو روغتیا**

ځیني موقعیتونه د ماشومانو لپاره د غاښونو روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي - د لیدنې وخت اخیستل اړین دي.

# د کورنیو لپاره مرستندویه سرچینې

## چاپ




**له زده کړې سره د لیوالتیا پیدا کولو لپاره له خپل ماشوم سره مرسته کول**
www.fairfaxcounty.gov/OFC
ویلټئ: "Helping Your Child Love to Learn"

له زیږون څخه تر 5 کلنۍ پورې د ماشونتوب د ودې په اړه معلومات ترلاسه کړئ. د هغو فعالیتونو په اړه معلومات ترلاسه کړئ چې کورنۍ او ښوونکي یې په ساینس، ریاضي، لیک لوست زده کړې، ژبې، تخلیقي هنرونو، ټولنیزې او عاطفي ودې او د روغتیایي او فزیکي ودې د رامنځته کولو په موخه وړاندې کولی شي. په څو ژبو کې شتون لري.

**د فیرفکس د ناحیې د دولتي ښوونځیو د والدینو د وکالت لارښود کتاب: د وړکتون لپاره چمتو کېدل**
www.fcps.edu
ویلټئ: "Getting Ready for Kindergarten"

د خپل ماشوم د لومړي ښوونکي په توګه، تاسو له هغه سره وړکتون ته په چمتوالي کې مرسته کوئ. په څو ژبو کې شتون لري.

## ویب پاڼې

**د فیرفکس ناحیې د دولتي ښوونځیو په وړکتون کې ثبت نام کول**
www.fcps.edu/registration/kindergarten registration

د وړکتون د ثبت نام پاڼه داسې معلومات لري چې له والدینو سره د زده کوونکو د شاملولو د 5 مرحله یي پروسې په بشپړولو کې مرسته کوي. د FCPS ویب پاڼې په څو ژبو شتون لري.

**د فیرفکس ناحیې د دولتي ښوونځیو وړکتون**
www.fcps.edu/academics/elementary-school-academics-k-6/kindergarten

دا پاڼه د FCPS وړکتون د تجربې په اړه معلومات لري. د پوښتنو لپاره، 703-204-6734 ته زنګ ووهئ یا RegistrationQuestions@fcps.edu ته یو برېښنالیک واستوئ.

**له ماشومانو سره په زده کړه کې د مرستې کولو خبر پاڼه**
(انګلیسي او هسپانوي)
www.fcps.edu
ویلټئ: "Helping Children Learn Newsletter"

له ماشومانو سره په زده کړه کې د مرستې کولو خبرپاڼه د کورنیو لپاره داسې مفکورې لري چې په ښوونځي کې د ماشومانو په بریا کې مرسته کوي.


د ورځنۍ زده کړې پلان جوړونکی هره ورځ داسې نوې مفکوره وړاندې کوي چې کورنۍ ورڅخه مکتب ته د ماشومانو په چمتو کولو کې ګټه اخیستلی شي.

## ويډيوګانې




**د ښوونځي چمتوالي ته له نږدې يوه کتنه**
www.youtube.com/watch?v=LjPK53Gfo9Y

يو بريالی چمتوالی او لېږد هغه وخت رامنځته کېږي کله چې کورنۍ، د لومړني ښوونځي کارکوونکي او د کوچنيوالي ښوونکي د هر ماشوم د ملاتړ لپاره سره لاسونه ورکړي.




**د فيرفکس ناحيې دولتي ښوونځي وړکتون ته ستاسو ښه راغلاست وايي**
https://youtu.be/YxFAwy3Uj2g

دا ويډيو د FCPS وړکتون د پروګرام په اړه يوه کتنه وړاندې کوي.

## اېپونه

**Vroom**
www.vroom.org

د کورنيو او د لومړنيو زده کړو ښوونکو لپاره د Vroom د ذهنيت جوړونې لارښوونې يوه په زړه پورې لاره ده چې په وسيله يې له ماشومانو سره د هغو مهارتونو په رامنځته کولو کې مرسته کوي چې هغوی ورته په ښوونځي او له ښوونځي څخه وروسته اړتيا لري. دا وړيا اېپ په iOS او اندرويد آلاتو (کمپيوټرونو، ټابليټونو، ځيرکو ټيليفونونو) کې شتون لري. دا اېپ په انګليسي او هسپانوي ژبو شتون لري.




**د CDC د موخې تعقيبوونکی موبايل اېپ**
www.cdc.gov
وپلټئ: Milestone Tracker

د مرضونو د کنټرول او مخنيوي اداري له لوري د موخې تعقيبوونکی اېپ له تاسو سره د خپل ماشوم د ودې د بهير په تعقيبولو کې مرسته کوي. له 2 مياشتنۍ څخه تر 5 کلنۍ پورې د ماشومانو په وده کې د مرستې لپاره دا اېپ سپارښتنې وړاندې کوي. دا وړيا اېپ په iOS او اندرويد آلاتو او په انګليسي او هسپانوي ژبو شتون لري.

# دا په وړکتون کي
# د ثبت نام
# وخت دی!

**是註冊就讀幼稚園的時候了！**
如果您的孩子將於 9 月 30 日前年滿 5 週歲，請聯絡您附近的小學，以了解相關入學資訊並取得註冊資料袋。

**유치원에 등록하실 때입니다!**
귀하의 자녀가 9월 30일 이전에 만 5세가 된다면 지금 주변의 초등학교에 연락하시어 학교 정보 및 등록 서류에 대해 알아보십시오.

**Đã đến lúc để đăng ký cho lớp !mẫu giáo**
Khi con em quý vị được 5 tuổi vào ngày 30 tháng 9, thì đây là thời điểm thích hợp để quý vị liên lạc với trường tiểu học gần khu vực của quý vị để biết thêm thông tin và hồ sơ .ghi danh

If your child will be 5 years old by September 30, now is the time to contact your neighborhood elementary school for information and the registration packet.

**Ha llegado el momento de inscribirse para Kindergarten!** Si su hijo va a tener 5 años el 30 de setiembre próximo, ahora es el momento de ponerse en contacto con la escuela primaria de su vecindario para obtener información y el paquete de inscripción.

”زمان ثبت نام برای مهد کودک است!“
اگر فرزند شما تا 30 سپتامبر، 5 ساله می شود، اکنون زمان آن است که با دبستان محل خود تماس بگیرید تا اطلاعات مورد نیاز و بسته ثبت نام را دریافت کنید.

**”یہ کنڈرگارٹن میں اندراج کرانے کا وقت ہے!“**
اگر 30 ستمبر تک یا اس سے قبل آپ کے بچے کی عمر 5 سال ہو رہی ہے، تو وقت آگیا ہے کہ آپ اپنے علاقے کے اسکول سے رابطہ کریں اور معلومات اور داخلے کی تفصیلات طلب کریں

**”لقد حان الوقت للتسجيل في رياض الأطفال“**
إذا كان طفلك سيبلغ عمر 5 سنوات بحلول 30 سبتمبر، فقد حان الآن وقت الاتصال بالمدرسة الابتدائية القريبة للحصول على المزيد من المعلومات وحزمة التسجيل الخاصة بها.





**ومومئ چې څنګه:**
**http://boundary.fcps.edu/boundary**


Fairfax County
OFC Office for Children
www.fairfaxcounty.gov/OFC
Pashto